بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د استهداء مديريت

تاريخ: ۱۸/ شوال المکرم/ ۱۴۴۵ هق
مصادف: ۸/ثور/ ۱۴۰۳ هش

مکتوب نمبر: ۳۲۰-۳۶۱

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير

**د ننګرهار ولايت د استيناف محکمې محترم مقام ته!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته**

**و بعد:** د ستري محکمې د تحريراتو رياست د مکتوب نمبر (۳۷۰۰) مورخ ۱۴۴۵/۹/۱۳ هق په توسط د ننګرهار ولايت د استيناف محکمې استهداء نمبر (۹۶۱۹) مورخه ۱۴۴۵/۸/۲۴ هق د ستري محکمې دارالانشاء عمومي رياست ته په تاريخ ۱۴۴۵/۹/۱۳ هق په لاندي متن رارسيدلې ده:

۱-څرنګه چي محترم مقام په جريان کښي ياست د اشخاصو حقوقي او جزائي دعوی په محاکمو کښي وکيلان تعقيبوي اکثره دعوې او هغه وکيلان چي د عدليې محترم وزارت سره ثبت وي اوسني مشکلات يې په دې ډول دي: دا وکيلان په حقوق العباد کي خپله صورت دعوی په شرعي شرائطو نشي برابرولی لهذا د اکثر خلکو دعوه د نه صحت د دعوا له وجهې په عدم سمع فيصله کيږي.

۲-کوم طرزالعمل چي د اجراء لپاره ورکړل شوې اکثره وکيلان د خپلو مؤکلينو څخه زياتي روپي اخلي.

۳- هر کله چي محاکمو ته عرائض راشي د وکيلانو او عريضه نويسانو لخوا تحرير شوي وي مګر عرايض په شرائطو برابر نه دي او همدارنګه په عرائضو باندي (۵۰۰) افغاني يا (۱۰۰۰) افغاني او يا له دې څخه زياتې پيسې له خلکو اخلي.

٤- په حقوق الله کي چي مجرم بندي شي هم دوی محکمې ته راځي چي زه د فلاني مجرم وکيل يم او د هغه مجرم له قريبانو څخه زياتي روپې په دغه وکالت غواړي حال داچي هيڅ ګټه مجرم ته نشي رسولی؛ ځکه مجرم يا په خپل جرم مقر يا منکر وي که مقر وي قاضي خپله فيصله کوي، د نه قناعت په صورت کي ما فوق محکمې ته ليږل کيږي او که منکر وي نو قاضي صاحب د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر(۲۸) مورخ ۱۴۴۵/۶/۱۶ هق په اساس خپل تحقيق کوي که مجرم ثابت شي تعزير ورکوي او که جرم ئې ثابت نه شي برائت ورکول کيږي که په حقوق الله کي وکيلان محکمې ته رانشي دا به د خلکو او د مجرمانو په قريبانو شفقت وی ځکه هغه روپۍ به ور څخه نه مصرفيږی، ولې چي کور کي بل سرپرست نلري، اقتصاد ئې کمزورې وي د بنديانو قريبان چي محاکمو ته راشي اکثريت زنانه وائي چي زه روپۍ له کومه کړم وکيل يې را څخه غواړي او اکثره وخت د نورو مشکلاتو سبب هم کيږي.

٥- اکثراً کميشن کاري هم دا وکيلان کوي او اداري فساد ته لاره هواروي بالخصوص په ننګرهار ولايت کي کميشن کاري اکثره ځايونو کي شتون لري او دا د محکمې حيثيت زيان لري د ا مشکلات چي ما کومو ولاياتو کي کار کړی موجود دي.

٦- وکيلان دا تقاضا کوي چي زه رسمي وکيل يم ما ته بايد د محکمې قاضي صاحب تر نور عامو خلکو په نسبت امتياز راکړي او حال دا چي قاضي صاحب شرعاً مکلف دی چي د مدعي او مدعی عليه ترمينځ به فرق نه کوي نو دوی کله له قاضي صاحب څخه پدې شکايت کوي چي زمونږ سره سم چلند نه کوي او قاضي صاحب يواځې دا غوښتنه نه مني چي د محکمې نوبت وي



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
د معاونيت تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس: ۱۹۸۹
ايميل: darulinsha@gmail.com
ويب سايت: www.supremecourt.gov.af

یا وکیل أو مقابل جانب علی السویة وي لهذا پورته وضاحت مو محترم مقام ته احتراماً وړاندي کړ په اړه ئي چي محترم عالي مقام څرنګه لازم ګڼي هدایت به وکړي.)

**پورته ذکر شوي موضوع د ستري محکمې محترم عالي مقام ته وړاندي شوه، په اړه يې د ستري محکمې محترم عالي مقام د حکم مورخ ۱۴۴۵/۱۰/۱۶هق په اساس داسي هدایت وکړ:**

((۱ـ په حقوقي دعوو کي دي عدلیې وزارت یاد وکیلانو ته تر هغه جواز نه ورکوي تر څو د مختلفو صورت دعواوو د صحت د شرائطو امتحان ورڅخه اخستل شوی نه وي او کوم کسانو ته چي جواز لیکونه ورکړي دي د هغوی څخه دي امتحان واخستل شي که کامیابه نشو جواز دي لغوه شي.

۲ـ کوم وکیلان چي د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا منظور شوې طرزالعمل څخه زیاتې پیسې اخلي یاد متخلفین دي معلوم شي او جواز دې لغوه شي.

۳ـ عریضه نویسانو لپاره که تعین د پیسو نه وي شوی د مربوطه مرجع لخوا دي تعین ورته وشي او که تعین شوی وي بیا هم تخلف کوي د متخلفینو جوازونه دي لغوه شي.

٤ـ په حقوق الله موضوعاتو کي مدافع وکیل ته ضرورت نه پاتیږي؛ ځکه محکمه د متهم/مجرم اظهارات خپله اوري هغه ته په کتلو خپله فیصله صادروي او مدافع وکیل سره یاد مشکلات مخ ته راځي په نشتون کي به د مشکلاتو مخنیوي وشي.

همدارنګه د ستر محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۲۷) مورخ ۱۶/جمادي الثانیة/۱٤٤٥ هق په ذریعه محاکمو ته هدایت شوی چي دغه موضوعات حق د اولیت لري او ددغه څخه علاوه دي نوبت د نوبت مطابق اجرآت ورباندي وشي په هغه کي دا نشته چي د مدافع وکیل موضوع ته دي تر نورو موضوعاتو ترجیح ورکول شي.))

بناءً د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د ستري محکمې د محترم عالي مقام حکم ذکر شوی حکم ددې مکتوب په ذریعه نقلاً ستاسو محترم ریاست ته واستول شو تر څو د یاد هدایت مطابق اصولي کړنې ترسره شي.

**په درنښت**

۱۸/ ۱۰ / ۱٤٤٥ هق

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د ستري محکمې**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

ستره محکمه

ریاست عمومی دارالانشاء

کاپي: د ستري محکمې د تحریراتو عمومي ریاست ته د مکتوب نمبر (۳۷۰۰) ۱۴۴۵/۹/۱۳ هق په ارتباط!



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لاری، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
د معاونیت تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس: ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com
ویب سایت: www.supremecourt.gov.af